# د رحمت الله درد صاحب په شاعرۍ کښې د جمال تصور

# THE CONCEPT OF AESTHETICS IN RAHMATULLAH DARD'S POETRY

Dr. Muhammad Haroon [1]

## ABSTRACT

*This article is written about the aesthetic concepts in the poetry of one of Pashto modern poets Rahmatullah Dard. Dard's aesthetic thoughts encompass wide array of ideas such as theory of objectivity and subjectivity, Utilitarianism, Einfuhlung, aesthetic unity, dynamic theory of aesthetics etc. Furthermore, this article briefly discusses various aspects of beauty hidden in Dard's poetry i.e., aesthetic sense, aesthetic taste, sublimity, notion of association, delicacy/tenderness, brackishness and perfectionism.*

Keywords: Aesthetics, Utilitarianism, Einfuhlung, Sublimity, Association

هسې خو فنون لطیفه د جمالیاتي ذوق د ابلاغ د ټولو نه ښه او پرُاثر لارې دي خو دا شاعري پکښې تر هر څۀ زیاته اثرناکه ذریعه ده. هم دغه وجه ده چې د شعرو شاعرۍ بنیادي موضوع په عمومي توګه حُسن او جمال ګرځیدلې ده.

د حُسن او ښکلا د مظاهرو، مشاهداتو، نظریاتو او فنونِ لطیفه مطالعې او علم ته جمالیات وئیلے شي.

په تاریخ کښې په وړومبي ځل د جرمني د جمالیاتو دانشور الیګزینډر بام ګارټن په ۱۷۳۵عیسوي کښې د حسن د فلسفې د پاره د (استیټکس) لفظ استعمال کړو چې ورستو ئې معني جمالیات شوه. د نړۍ د مختلفو وګړو او قومونو د نقطه نظر مطابق چې د حُسن کوم تعریف شوے دے، هغه اکثر د یوبل نه بیل دے، د شاعرانو ادیبانو جدا، د صوفیانو بېل، د عقلیت او مادیت او روحانیت د نظریې منونکو هم خپل جدا خیال دے. د تصوریت د مکتبِ فکر خاوندانو حُسن یو "تصور"وبللو. ما دیینو د جسماني تناسب اعتدال او توازن ته د حُسن و جمال نامه ورکړه. د یونان فلسفیانو حُسن ته "خېر محض" ووئیلواو څۀ مفکرینو ورته د افادیت په نقطه نظر د حُسن نامه ورکړه. یعني چې کوم څیز د انسان په خېر ښېګړه راتلے شي او فائده مند وي هغه ښکلے دے. درومیانو په خیال د تناسب، عظمت او طاقت نوم حُسن دے. او چا فنون لطیفه یعنې (مصوري، شاعري او موسیقي) وغېره ته حُسن ووئیلو. په هر حال د حُسن که هر څومره تعریفونه شوي دي خو یو هم پکښې داسې بشپړ (مکمل) نشته چې نیمګړتیا دې نۀ محسوسوي. د حُسن جامع تعریف صرف قرآن کړے دے. یعني کوم څیز چې انساني حواسو، عقل او زړۀ ته خوشحالي او سرور ورکوي هغه ښکلے او حسین دے.

---

[1] Associate Professor Govt Degree College Katlang Mardan

Higher Education Department KP, Email: mmustafaharoon59@gmail.com

جماليات د شاعرۍ لازمي برخه ده. بغېرذوقِ جمال نه شاعري بېکاره او بېخونده معلومېږي چې د کوم شاعر په تخيل کښې د ذوقِ جمال رنګونه غزوني وکړي نو ظاهره خبره ده چې شاعري به ئې هم د جمالياتي افکارو يوه ښکلې هنداره وي.

مونږ چې په ژور نظر د رحمت الله درد صاحب کلام اوګورو نو د جمالياتي افکارو، نظرياتو او اصطلاحاتو ډېري زياتي نموني پکښې شته. د هغه د کلام نه دا اندازه هم کيږي چې هغوي د مغربي او مشرقي جمالياتو زبردسته او ژوره مطالعه کړي ده. او په جمالياتي بصيرت سره ئې دغه ټول افکار د پښتو ژبې ددرخانې د ډول سنګار ذريعه جوړه کړي ده.

د درد صاحب جمالياتي افکار مونږ دلته په دوؤ برخو کښې ويشلے شو.

١. نظريات ٢. اصطلاحات

وړومبے به د هغهٔ د حسن په نظرياتو په تفصيل سره بحث وکړو،

١. د حُسن معروضي نظريه : (OBJECTIVE THEORY OF BEAUTY)

ددې نظريې له مخه ښکلا په معروض او څيز کښې خپل مکمل وجود لري. که څوک ورته ګوري او کهٔ نه، او کهٔ ستائنه ئې کوي او کهٔ نه. خو جمال او ښائست يو معروضي حقيقت دے. کېدے شي چې هم په دې وجه څني صوفياؤ د کائنات خالق ته ازلي حُسن وئيلے دے. ځکه چې مطلق حُسن هغه وخت هم موجود وو چې په کوم وخت کښې لا انسان نهٔ وه پيدا کړے شوے. افلاطون، هيګل او شوپنهار د حُسن د معروضي نظريې قائل دي.

راځئ چې وګورو چې درد صاحب ددې نظريې ترکومه حده منونکے او قائل دے . هغه وائي.

ہ سترګې بانهٔ، شونډې، رخسار ، زنه او تورې زلفې
ستا په څهره کښې الله څومره لوئے جمال ايښے دے. (١)

ہ ستاله ښائست نه چې نظر پټوي
ګويا په ګوتې باندې نمر پټوي. (٢)

ستا دحسن اعتراف به خامخا کړي
چې په دواړو سترګو نهٔ وي نابينا څوک (٣)

ہ تورې زلفې ، سپين رخسار ګلابي شونډې
ستا ښائست ته ورکوي جلا جلا رنګ (۴)

2. د حُسن موضوعي(SUBJECTIVE THEORY OF BEAUTY)

نظريه: د معروضيت او معروضي نظريې په رد کښې موضوعي نظريه پېش کړے شوه چې د دې نظريې لوئے علمبردار د اټلي دانشور کروچے دے. د موضوعي طرزِفکر قائل د جمالياتو ماهرانو حُسن د داخل (باطن) تخليق وګرځولو. او دعوٰي ئې وکړه چې حُسن بذاتِ خود هيڅ هم نهٔ دے، بلکه د ا د کتونکي د سترګو کمال دے چې هغه ته په مخصوص څيز کښې د حُسن خَلق (پيرق)په نظر راځي. د آياز د زلفو خم او ښائست صرف محمود غزنوي ليدے شي. يعني صرف مجنون ته لېلٰی ښکلې ښکاري. ددې نظريې له مخه ښکلا د باطني ادراک، تخيل او د احساس سره تعلق لري. يعني ښائست د شاهد او کتونکي په زړهٔ او نظر کښې دے. په دې حقله د جمالياتو يو مغربي دانشور هيچسن خپل نقطهٔ نظر داسې بيانوي.

**"حُسن صرف زمونږ دننه يو تصور دے"  (۵)**

**درد صاحب موضوعي نظريه داسې چېړلې ده**

**ۓ دماحول خبره نۀ ده، زماذهن ښائسته دے**
**زه هم او سم ستاسو چم کښې د ښکلا خوبونه وينم (۶)**

**ۓ وائي راته دا احسان دې شته په ما**
**ښکلې خو زه وومه خو خوږه دې کړم (۷)**
**ۓ تانه چې حسين وي داسې کس په جهان نشته دے**
**دا زما نظر دے ددنيا به درته نۀ وايم (۸)**
**ۓ نۀ مې نظر کښې ښاپيرۍ ده نه په زړۀ کښې حوره**
**د حوا لُور زما دپاره له هر چا ښکلې ده (۹)**
**ښائست د اندرون ئې د کتو دے اے ملګرو**
**د ګل د پسرلي د لاله زار سندرې وائي (۱۰)**

**۳. د افاديت نظريه: (UTILITARIANISM)**

**يونانيان وائي چې هر هغه څيز ښکلے دے چې څۀ فائده ترې ترلاسه کيږي. سقراط وائي چې د سروزرو د بې فائدې ډال نه د خځلو فائده منده ټوکرۍ غوره او ښکلې ده. په دې باب کښې سعيد احمد رفيق د سقراط په حواله خپل نقطهٔ نظر داسې بيانوي.**

> **"سقراط حُسن او خېر دواړه د افاديت په تله تلي. په دې لحاظ چې کوم ټول څيزونه خپل مقصد پوره کوي هغه ښکلي دي او ښۀ دي. او ددې په خلاف چې کوم څيزونه خپل مقصد نۀ تر سره کوي هغه بدرنګ او خراب دي. " (۱۱)**

**ګل چې خوشبو نۀ لري، تُوره چې ګزار نۀ کوي، او بوټے مېوه دار نۀ وي نو دا ټول بدرنګ دي، ښکلي نۀ شي بللے.**

**ځکه خو درد صاحب دا نظريه هم خپله کړې ده.**

**ۓ ګلونه بي خوشبو يۍ، سپوږمۍ بې رڼا نۀ قبلوم**
**لېلٰى چي وفا نۀ کوي ، لېلٰى نۀ قبلوم (۱۲)**

**۴. د جذب وانجذاب نظريه، (EINFOHLUNG)**

**نظريهٔ هم ګدازي:**

**نظريه هم ګدازي په اصل کښې مشهور جرمن فلسيوف "لپس" ته منسوب ده ـ مطلب ئې دا دے چې هر کله زمونږ جذبې او احساسات دَ يو بل چا دَ جذبې او احساساتو سره شريک شي نو ددغې ښکلي څيز له وجې راته ښيا نور څيزونه هم ددغې څيز په څېر ښکلي ښکاره شي او يا دَ قبيح (يا بد رنګ) څيز دَ وجې راته هغه نور څيزونه هم**

بیا بدرنګ ښکاره کېږي ـ هم دې ته ګدازي وئیل شي ـ په نورو ټکو کښې مونږ داسې وضاحت هم کولے شو چې کله د ذوقِ جمال شاهد د جمالیاتي مشاهدې په دوران کښې خپل باطني سوز او عشق په معروض کښې ووینې او دهٔ ته د ښکلا ادراک وشي. حالانکه دا د دهٔ خپل اندروني سوز د ښکلا په رنګ کښې وځلیږي ځکه خو په شاهد مستي، خمار، بېخودي، او خود فراموشي راشي، او د صوفي په شان حال او کیفیت پرې ورود وکړي. درد صاحب دلته ددې نظریې نه متاثره ښکاري.

ۂ سیاه مستي توري سترګې، هغه سرې مېکوني، شونډې

تصور ئې چې تش وکړم زه همه خمار خمار شم (۱۳)

۵. دوحدتِ جمال نظریه:

ددې نظریې خلاصه داده چې ښکلا یو ظاهري او باطني حقیقت دے. په معروض کښې هم اثر لري او د ادراک خبره هم ده، د وحدت جمال نظریه سوچه اسلامي جمالیاتي بشپړه (مکمله) نظریه ده.

درد صاحب ددې نظریې منونکے هم دے چې جمال د دواړو د امتزاج او اشتراک نه رغیږي. یک طرفه حقیقت نهٔ دے بلکه داخلي او خارجي دواړه اړخونه لري. درد صاحب وائي.

ۂ ستادسرو شونډو غوټی، ستاد رخسار ګلاب

زه په خپل زړهٔ کښې واړه حُسن د بهار ساتمه (۱۴)

که یو اړخ ته هغه د سرو شونډو او درخسار د ښائست ذکر کوي نو دا دښکلا معروضي حقیقت بیانوي. او بل خوا په خپل زړهٔ کښې د ښکلا د احساس ذکر هم کوي نو دائي موضوعي استعداد ته اشاره کړې ده.

۶. د بوقلموني ، تلون او تنوع نظریه:

د قرآن د جمالیاتو د تصور له مخه بوقلموني د حُسن یو خاص صفت دے. د مغربي جمالیاتو مشهور فلسفي سینټ اګستائن دبوقلموني نه متاثره دے اود هغهٔ د دغه تاثراتو په حقله مجنون ګور ګهپوري لیکي:

"ژباړه: آګستائن په ټول کائنات کښې حسن وینې ـ دَ حسن نوم دے تنوع او تلون ـ په ژوند کښې چې ځومره بدي، ځومره مصیبتونه او ځومره بدرنګی دي نو دا ټول دَ حسن کائنات دَ عناصرو ترکیب دے ـ حسن یو اهنګ دے چې دَ مختلف او متضاد سرونو مرکب دے ـ ځکه قبیح هم آګستائن دَ حسن یو لازمي جز مني ـ ځکه چې ددې نه بغیر حسن نهٔ ښکاره کېږي ـ (۱۵)

مطلب دادے چې په دنیا کښې ځومره متضاد څیزونه دي. نودا ټول ښکلي دي. که خواږهٔ دي که تراخهٔ دي، که تور دي که سپین، که شات دي که زهر، یعني داټول اجزا د کُل صفات دي. د کُل وجود د اجزاو منت بار دے. دا تضادات که په ظاهري توګه هر ځومره دي او په هر څهٔ کښې دي خوبیا هم په معنوي ډول د کائنات د ښکلا سبب ګرځي.

ازغي د ګل ښکلا نوره هم سېوا کوي. قبح "بدرنګي" هم د ښکلا د یواړخ حیثیت لري. درد صاحب ددې نظریې هم پیروکار دے.

ۂ ستا د خُلي ترخه وینا هم خوند کوي

خال لکه مزه کړي د جانان په مخ (۱۶)

۷. د حسن حرکي نظریه: (DYNAMIC THEORY OF BEAUTY)

د حُسن د حرکي نظريي مقصود دادے چې حُسن پرله پسې بدلیږي، تل په حرکت کښې وي په يو ځائې نهٔ پاتې کیږي. څنګه چې د سپرلي حُسن يو څو ورځې وي او بيا بدل شي. يا دانسان په ماشوموالي کښې يو شان ښکلا وي، په ځوانۍ او پېغلتوب کښې بل شان او په نيم زالي عمر کښې بل رنګ، ښائست په هره لحظه او د عمر او ژوند په هر ډګر جدا جدا او بل بل شان وي.

درد صاحب هم د حُسن جمود نهٔ مني، وائي چې دا ځنډيږي نهٔ، تعطل ددې صفت نهٔ دے بلکه بدليږي رابدليږي. کله کم شي کله زيات. په نوي نوي رنګ کښې ځليږي.

ء کله سپوږمۍ شي، کله اوروکے
وارِه شپه مخ نه دې څرخيږي حُسن (۱۷)

ء ښائست د هغه ښکلي په يو رنګ نهٔ پاتې کيږي
سحر بدل بدل لګي، ماښام بدل بدل (۱۸)

اوس به په هغې جمالياتي اصطلاحاتو اوافکارو خبرې اترې وکړو کوم چې درد صاحب په شعوري توګه په خپل کلام کښې بيان کړي دي.

جمالياتي اصطلاحات او افکار:-

د درد صاحب په کلام کښې دجمالياتو د معروفو اصطلاحاتو په حقله ښائسته نمونې شته چې د هغوي د ذوقِ جمال او رنګين تخيل اندازه ترې په اسانه کيږي او هغوي دغه اصطلاحات ډير په خوندور انداز کښې د ښائست د بحث موضوع جوړه کړې ده. يو څو مشهور اصطلاحات پکښې دادي.

جمالياتي حِس، جمال او جلال او جمالياتي ياد

جمالياتي حِس:(AESTHEITC SENSE)

د ښکلا د احساس او ادراک دا حِس د ټولو انسانانو شريک وي. هر انسان ته وديعت شوے وي. او يو معروضي حقيقت دے، او د ښائست پيژندنه پرې کيږي. درد صاحب د جمالياتي حِس په حقله څهٔ دارنګ خپل نقطهٔ نظر بيانوي.

ائيني نهٔ يُو چې په کاڼو کښې ښائست نهٔ وينو
د جمال حِس دې سلامت وي بُت ګري به کوو (۱۹)

جمالياتي ذوق:- (AESTHETIC TASTE)

د ښکلا نه د مسرت، خوند او حظ اخستو قوت ته جمالياتي ذوق وئيلے شي. ذوقِ جمال په ډيرو کمو خلقو کښې مونده شي. د ذوقِ جمال تنده ورځ تر ورځه سېوا کيږي. داد ښائست د ادراک سره سره محظوظ کيږي او خوندونه اخلي. او زيات تر دومره بېقراري و مومي چې مدام په دې تکل کښې وي چې په هر نظر او قدم يې د حُسن مشاهده کيدے.

درد صاحب د بې انتها ذوقِ جمال خاوند دے. د ښکلو د ښائست پرستاري د هغه ژوند دے.

ء راسره خو تش يو زړهٔ دے ليکن درده
د کنعان د ټولو ښکلو خريدار يُو. (۲۰)

ء اوس هم چې راپه شي د لالي ليونے حُسن

سینه کښې په ګډا شي زمونږ زړونه لیوني شي. (۲۱)

ـہ مانه که جانان پوښتنه وکړي چې ته څهٔ غواړې

زهٔ به بې اختیاره درده ! چغه کړم دیدن دیدن (۲۲)

ـہ مونږ به قربان کړو ورته ځان د خوږ نظر په بدل

په ځان که ومنو د ګل د عنایت تقاضي (۲۳)

جمال او جلال: (BEAUTY AND SUBLIMITY)

د حُسن دوه غټې څانګې، چهتونه او اړخونه دي. یعني جمال او جلال. جمال همېشه په نرمو، نازکو، مهینو او ورکوټو څیزونو کښې مونده شي. او جلال په سختو، زیګو او لویو څیزونو کښې موجود وي. د جمالیاتو مغربي مفکر "سیسرو" نزاکت، لطافت او دلربائي د جمال صفت ګڼي او عظمت ، رفعت دجلال صفات تصور کوي. که جمیل معروض د نزاکت او لطافت عکاسي کوي، نو جلیل د مړانې، قوت، توریالیتوب، غېرت، شجاعت ، بهادرۍ او توزنې ترجماني کوي. درد صاحب د دواړو حقیت تسلیموي، او د دواړو اهمیت د ښکلا د پاره ضروري ګڼي.

درد صاحب په کلیات کښې په صفحه ۱۴۳ د "جمال او جلال" نومې نظم د جمال او جلال د تاثراتو په حقله شاهکار نظم دے. دلته ئې وڅېړوو.

جمال او جلال

نمر، سپوږمۍ، ستوري ګلونه

سپینه واوره، ابشارونه ګلدرې، چینې او غرونه

د فطرت ښکلي عکسونه د مرغانو اوازونه

له ګلاب تازه مخونه ښکلي زنې، ښکلې جونه

تراشلي بدنونه نرۍ ملا، دراز قدونه

خوږوي د خلقو زړونه په سُرکو شونډو ستونه

مظاهر ستا د جمال دي

ته یکتا ، ته بې مثال یې ته همه جمال ، جمال یې

ته عظیم یې زما ربه

پُر هیبته جنجړ غرونه پُر خروش سمندرونه

توري تبوجې، تور غارونه د دېوانو مسکنونه

دُهند، خوپنې، بارانونه تندرونه، طوفانونه

صحراګاني، ځنګلونه نهٔ یې سار نهٔ یې حدونه

شپه او ورځ پکښې اتڼ کړي بلاګانې، بدروحونه

جهالت، افلاس، جنګونه په قدم قدم مرګونه

مظاهر ستا د جلال دي

ته یکتا ، ته بې مثال یې

ته همه جلال، جلال یې

ته عظیم یې زما ربه

درد صاحب د حقيقي حُسن د جمال او جلال دواړو مظاهر بيان کړي دي۔ خو مونږ آخر په دې نتيجه رسو چې هغه د الله پاک د حقيقي حُسن د جمال نه ډېر زيات متاثره ښکاري۔ او د هغې ثبوت دا شعر دے۔

ﮦ ماباندي ئې دومره بې حسابه عنايات دي

وي به خوالله ته زه قهار وئيلے نهٔ شم (۲۴)

درد صاحب په مجازي حُسن کښې د جمال او جلال موازنه داسې کوي۔

ﮦ نهٔ ئې جمال ته تېنګېدے شم، نهٔ جلال ته درده!

د يارمرضي ده په جلال که په جمال مې وژني (۲۵)

ﮦ هر څهٔ مزه کوي له تاسره ګُل!

شوخي په خپل ځائے شرارت په خپل ځائے (۲۶)

ﮦ د لالي حُسن به نيمګور پاتې شي

چې ورزده کړي مې نازونه نهٔ وي (۲۷)

نازونه (جلال) هم د حُسن په تکميل کښې برخه اخلي۔ ځکه ئې درد صاحب اهميت څرګندوي۔

ﮦ سترګي او زلفې، اننګي، او شونډې حُسن نه وي

څهٔ نزاکت، څهٔ بې رُخي ، څهٔ ادا هم غواړي (۲۸)

که نزاکت په مجازي حُسن کښې د جمال اړخ دے نو بې رُخي، تغافل او نازونه ئې جلال دے۔

ﮦ پښتون فطرت مې کله اور کله شبنم شي درده!

شوخي هم غواړي له خوبانو، حيا هم غواړي (۲۹)

که اور کښې د سوزيدو خاصيت دے او حرارت پکښې ډير وي نو دا دجلال نخښه ده۔ او شبنم (پرخه) کښې طراوت، تازګي، او سکون دے نو دائې د جمال د اړخ څرګندونه ده۔

مجازي حُسن:

په مجازي ښائست کښې د انسان ، د فطرت او فنونِ لطيفه حُسن ټول راځي۔ دې ښکلا له بقا نهٔ وي۔ دا زرفنا کيږي۔دښکلا په عناصرو او توکو کښې ډېر عناصر شامل دي خو د درد صاحب په نظر کښې ددغه اجزاوونه نزاکت، ملاحت، نوے والے ، تکميل او کمال بنيادي اهميت لري۔

نزاکت او لطافت (DELICACY AND TENDERNESS)

مغربي فلسفي "سيسرو" نزاکت د ښکلا د جمال عنصر وګڼلو۔ دغه شان په سنسکرت او مشرقي جمالياتو کښې د شډلوالي برعکس نزاکت د ښائست د يو توکي په حيثيت منلے شوے دے۔ دلته د درد صاحب په جمالياتي افکارو ددواړو اثرات غالب ښکاري۔

ﮦ نهٔ سپوږمۍ دے نه ګلاب دے خو ملګرو

ګل اندام دے مه جبين دے زما ګل (۳۰)

ملاحت(BRACKISHNESS)

په هندي جمالياتو کښې ملاحت هم د حُسن عنصر دے۔ ملاحت د صباحت ضد دے۔ مليح هغه حُسن ته وائي چې نمکيني، خوږوالے او زړهٔ راښکون پکښې ډېر وي۔ لکه څنګه چې

"غنم رنګے حُسن"د ایشیائي ملکونو د حُسن تصور دے دغه رنګ "ملاحت" هم د مشرقي سیمي د ښکلا یو زبردست تصور دے. ملیح حُسن د ټولو د سترګو تور دے ځکه ئي خوشنوا بلبل درد داسي په چغار سرکړے دے.

ۓ تور که نۀ دے خو نمکین دے زما ګل
دلبري لري حسین دے زماګل (۳۱)

"نوے والے"

نوے والے هم د ښکلا یو اهم توکے دے. د هندو مت په مشهور کتاب رامائن کښې یې ذکر شته او دا مشرقي رجحان دے. د اُردو مشهور مرثیه ګو شاعر میر انیس هم "نوے والے" فني جمال او ښائست تصور کوي.

ۓګلدستہ معنی کو نئے ڈھنگ سے باندھوں
اک پھول کا مضمون ہو تو سو رنگ سے باندھوں

درد صاحب نوے والے هم د حسن توکے او عنصر حسابوي.

ۓ نوے موسم ، نوے خواني، نوے غزل ، نوے عشق
نوي هر څۀ مزه کوي خو د مرګي نه بغېر (۳۲)

تکمیل او کمال (PERFECTIONISM)

تکمیل او کمال هم د حُسن په عناصرو کښې د یو اهم توکي حیثیت لري. د مشهور جمالیاتي دانشورانو سېنټ اګستائن او والف د نقطه نظر مطابق که ټول کائنات د "کُل" په حیثیت وګڼلے شي نو ښکلے دے. او کوم څیزونه چې مونږ ته په دې کښې نیمګړي، قبیح او بدرنګه په نظر راځي، هغه په حقیقت کښې داسې نۀ دي بلکه د کُل جزونه دي.

ددې دنیا د تکمیل دپاره زهریله او خطرناک ځناور هم دغه شان ضروري دي لکه څنګه چې د قدرت ښکلي منظرونه او اعلٰی کردارونه . په دې کښې د یو غېر موجودګي او نیشت والے دا کائنات نیمګړے کوي. په دې وجه "تکمیل" د حُسن لازمي صفت دے. ترڅو چې یو معروض یا څیز مکمل نۀ وي تر هغې د هغۀ د ښکلي کېدو سوال نۀ پیدا کیږي. د تکمیل او کمال په باب کښې سعید احمد رفیق د اګستائن نقطۀ نظر داسې بیانوي.

"اګسٹائن تکمیل کو حُسن کا ایک ضروری اور اہم جز تصور کرتا ہے. حسین معروض میں تناسب اور وضاحت کے ساتھ ساتھ تکمیل کی صفت کا موجود ہونا بھی ضروری ہے. جب تک کوئی معروض مکمل نہ ہو اس کے حسین ہونے کا سوال ہی پیدا نہیں ہوتا. تکمیل حُسن کا ایک جزو لائنفک ہے. اور نامکمل ہونا قبح کی نشانی ہے. والف نے اپنے نظریہ حسن میں "کمال " کو مرکزي حیثیت دي. " (۳۳)

د تکمیل د حُسن په دې نظریه کښې درد صاحب د دې دواړو مغربي مفکرینو او پوهانو سره همنوا دے.

ۓ چې شباب دې د نازونو سره مل شو
بس دے ښکلیه اوس دې حُسن مکمل شو (۳۴)

ۓ چې تکمیل د کائنات کوي ښائست دے
چې تکمیل کوي د حُسن محبت دے (۳۵)

ۓ حسن ضرورت د محبت دے ، محبت د حُسن

نهٔ زه مکمل یمه تنها، او نهٔ نګار پوره (۳۶)

جمالیاتی یاد: (THEORY OF ASSOSIATION)

کله چې یو عاشق د خپل محبوب او لالي څه ادا یا د بدن د اندامونو څهٔ ښکلا د کائناتو په څهٔ منظر یا د چا په څهره کښې هغه شان مُسکا یا ادا ووینې نو هغه ته د خپل محبوب ښکلے تصور مخې ته راشي. دې ته د مغربي جمالیاتو د عالمانو په نظر کښې "نظریه تلازمه" وائي. خو د ډاکټر نصیر احمد ناصر په خیال دا نظریه نهٔ ده بلکه یو نفس الامري حقیقت دے او دې ته مونږ "جمالیاتي یاد" وئیلے شو.

رحمت الله درد صاحب په خپله شاعرۍ کښې د جمالیاتي یادونو زیاته تذکره کړې ده. او خپل مئین زړهٔ ته ئې په دې دلاسه ورکړې ده. او دائي د جمالیاتو د موضوع ذریعه جوړه کړې ده.

جمالیاتي یاد ته ئې داسې شعري جامه وراغوستې ده.

ګل دے که سپوږمۍ د څوارلسمې ده

ماته ئې ښائست رایادوي جانان (۳۷)

هغه چې ما به کړل خوبونه ستا په سینه لیچه

هغه خوبونه رایادیږي درده پرله پسې (۳۸)

اوس هم چې راپه یاد شي د لالي لبونے حُسن

سینه کښې په ګډا شي زمونږ زړونه لېوني شي (۳۹)

مصروف یم که وزګار یم خو چې ګل شي راپه یاد

وریږي په ما "درد" باندې شعرونه لېوني شي (۴۰)

## حوالي


۱. درد رحمت الله، د درد کلیات، صفحه نمبر ۱۳۳
منګل کتاب کور محله جنګي پېښور مارچ ۲۰۱۹
۲. هم دغه اثر، صفحه نمبر ۳۵۷
۳. هم دغه اثر، صفحه نمبر ۳۴۳
۴. هم دغه اثر، صفحه نمبر ۲۸۹
۵. ناصر نصیر احمد، جمالیات جلد اول، صفحه ۲٦۳
مجلس ترقی و ادب ۲ نرسنگ داس، گارڈنز کلب روڈ لاہور 1961 ء
۶. د درد کلیات صفحه نمبر ۸۲
۷. هم دغه اثر، صفحه نمبر ۹۱
۸. هم دغه اثر، صفحه نمبر ۴۹۶
۹. هم دغه اثر، صفحه نمبر ۵۰۴
۱۰. هم دغه اثر، صفحه نمبر ۵۲۰
۱۱. رفیق سعید احمد، حقیقت حُسن، صفحه ۱۲۱
قلات پریس کوئٹہ، ناشر قلات پبلشرز کوئٹہ 1979ء
۱۲. درد درد کلیات، صفحه نمبر ۲۹۹
۱۳. هم دغه اثر، صفحه نمبر ۵۲۵
۱۴. هم دغه اثر، صفحه نمبر ۵۳۲
۱۵. ګور کهپوري مجنون، تاریخ جمالیات، صفحه نمبر ۴۱
جاوید پرس کراچی. ناشر مکتبہ عزم و عمل کراچی 1966ء
۱۶. د درد کلیات صفحه نمبر ۴۳۳
۱۷. هم دغه اثر، صفحه نمبر ۱۷۶
۱۸. هم دغه اثر، صفحه نمبر ۱۹۴
۱۹. هم دغه اثر، صفحه نمبر ۲۵۴
۲۰. هم دغه اثر، صفحه نمبر ۱۲۰
۲۱. هم دغه اثر، صفحه نمبر ۴۹۰
۲۲. هم دغه اثر، صفحه نمبر ۴۹۷
۲۳. هم دغه اثر، صفحه نمبر ۴۹۸
۲۴. هم دغه اثر، صفحه نمبر ۵۲۴
۲۵. هم دغه اثر، صفحه نمبر ۱۵۰
۲۶. هم دغه اثر، صفحه نمبر ۲۰۳
۲۷. هم دغه اثر، صفحه نمبر ۳۰۷
۲۸. هم دغه اثر، صفحه نمبر ۸۷
۲۹. هم دغه اثر، صفحه نمبر ۲۳
۳۰. هم دغه اثر، صفحه نمبر ۴۸۳
۳۱. هم دغه اثر، صفحه نمبر ۴۸۳
۳۲. هم دغه اثر، صفحه نمبر ۲۵۳
۳۳. رفیق سعید احمد، حقیقتِ حسن، صفحه ۱۲۴
۳۴. د درد کلیات صفحه نمبر ۲۳۱
۳۵. هم دغه اثر، صفحه نمبر ۱۴۱
۳۶. هم دغه اثر، صفحه نمبر ۳۳۷
۳۷. هم دغه اثر، صفحه نمبر ۳۴۲
۳۸. هم دغه اثر، صفحه نمبر ۳۷۳
۳۹. هم دغه اثر، صفحه نمبر ۴۹۰
۴۰. هم دغه اثر، صفحه نمبر ۴۹۰